AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۱/۰۷/۱۴

# پښتو او پښتنو ته د ترهګرۍ زیانونه

د یوه ولس اقتدار پر څلورو بنسټونو ولاړ دی:

- ګډه سیاسي جغرافیا، سیاسي - پوځي ځواک، ملي حاکمیت،
- ګډ ارزښتونه او پر ګډو هویتي - فرهنګي محورنو ولاړ یووالی،
- پوهه او فرهنګ،
- اقتصاد؛ تولید، خدمات او اقتصادي سرچینې.

پښتنو تر نیمي پېړۍ پخوا پوري په نورماله او طبیعي بڼه خپل دغه بنسټونه هممهاله پیاوړي کول او ورو ورو په سیمه کې د یوه مقتدر ولس په توګه راهسکېدل.

د پښتنو ازلي استخباراتي دوښمن داسي ترهګري ډلي ورته جوړي کړي، چي یوه برخه پښتنو پخپله د خپلو څلوروارو بنسټونو نړول فرض عین وګڼل او د خپلې پیاوړتیا په لور روان کاروان یې د شاتګپالنې، خرافاتو، تحجر او مرګ ګړنګ ته وربرابر کړ.

افراطي ترهګرو د واک پرمهال په ښکاره پښتو او پښتون دوښمني داسي اعلان کړه:

"دا څو تنه چي ډېر د پښتو او پښتنانه چیغي وهي، باید پر څلورلارو راوځړول شي"!

دا کیسه ډېرو پښتنو منورینو ته په یاد ده.

ترهګرو د پښتنو په سیمو کې لږترلږه زر ښوونځي سېزلي، ویجاړ کړي او یا یې تړلي دي، که په هر ښوونځي کې لږ ترلږه زر کسان درس ته کېني، نو یو میلیون پښتانه یې له پوهي او تعلیم څخه محروم کړي دي .
د پښتني سیمو اقتصادي سرچینې، کانونه، اوبخور سیستم، زمکي او باغونه یا لوټ شوي یا ویجاړ پراته دي، چي میلیونونه پښتانه یې له لوږې، احتیاج او جهالت سره لاس و ګریوان کړي دي.

ترهګر قوم نه لري!

خو که پښتانه د دې هېواد اکثریت وي، نو په هرڅه کې یې شمېر ډېر دی. د همدې معادلې له مخې ډېر وژل شوي او ډېر وژل کیږي. پښتنو خپله بشري پانګه له لاسه ورکړه.

د ترهګرو په لیکو کې که څه هم نور قومونه شته، خو رنګه په کې د پښتون بدو ده. له همدې ځایه نړۍ ته وروسته پاتې، متحجر، شاتګپال، جاهل، بېرحمه، بې عاطفې او نامتمدنه معرفي شول.

د مدني ارزښتونو، ولسواکۍ، رسنیو او فرهنګ لپاره ځانګړې شوې نړیوالي مرستي ورڅخه نورو وشوپلې. دی پاتې شو او د (انتحاري) هویت یې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د پښتنو سیالانو د دوی له همدې ښکېلتیا ګټه پورته کړه، پانګه، نړیوال اړیکي، تعلیم او تخصص یې ورخپل کړ، پر همدې بنسټ به سبا د خپل تعلیم، تخصص، اقتصادي توان او مدني چلند له مخې د واک و ځواک ورخپلولو مشروعیت هم د ځان کړي او پښتون اکثریت به د ښتو په بټیو یا د پردیو هېوادونو په مزدورۍ کې وروست شي.

د تاریخي افغانستان پر لویه جغرافیا خو د لر و بر پښتون دعوا روانه وه، د انګریز میراث خورو استخباراتو پښتون هم په ډیورند کرښه وویشه او بیا یې استخباراتي مدرسو کې د سرکوزیۍ ورومینځلي، په شلو مذهبونو یې سره دوښمن کړل، دودیزه تربورګلوي یې په نورو ایډیولوژیکو دوښمنیو ورپیاوړې کړه اوس نو ورته ناست دي، چې خپل تاریخي کسات ورڅخه واخلي. هر پښتون چې بل وژني، دی ورته من من غوښنه اخلي.

د پښتني فرهنګ ټول ارزښتونه، تاریخ، متون، ادبیات، موسیقي، فولکلور، ګودر، اوجره، دیره او دودیزه مشري یې په افراطیت، ټوپک او باروتو داسي ورولړله او خیرنه یې کړه، چې بیا به پېړۍ پېړۍ پاکه نه شي او همداسي به ککړه تر خاورو لاندې ښخه او ورکه شي.

پښتون یې د ښار او ښاري ژوند دوښمن کړ، ښارونه ورڅخه نورو ونیول او پښتون په کلي کې د ګندنې د پټیو ګټې ته کیناست، چې له خپل تربور سره پرې وجنګیږي او یا پر خپله زمکه کوکنار وکري. د کوکنارو زهري بوټي به د ده پر پټیو ولاړ وي، نښتر به د پښتون بچي وهي، په کارخونو کې به یې د ده سپړمې ورسوزي، خو ګټه به یې بیا د نورو مافیا او قاچاقبر جیب ته اچوي. پښتون په جرمي اقتصاد داسي روږدی شو، چې ګټه یې د بل شوه او بدنامي یې د پښتون لالا، وایي: هم بوره هم بدنامه!

او ښار،

ښار و پوهنتون، کارخونه، ډیپلوماسي، بهرنۍ اړیکي، دفتر، مدیریت، تکنولوژي، سینما، رسنۍ او نور مدني وسایل خو لا وخته ورڅخه نورو ورخپل کړي دي.

د تکفیر چینجنه او مزمنه ناروغي، ټاپې لګول، د سیکولر و کمونیست په نومونو د خپلو منورینو بدنامول تر هرڅه زیات د پښتنو تولنیزه ناروغي ده، چې ریښې یې ورخوسا کوي. ښه ځیر شئ، په هېواد او سیمه کې بل هېڅ قوم کافر، سیکولر او کمونیست نه لري، دا ټاپې یوازې پښتون پر پښتون لګوي.

افراطیت، ترهګري او د جهالت له امله د ګاونډي استخباراتو په لومه کې د پښتانه ښکېلتیا د هغه ځو سوه کلن بریالي پرمختګ او د پیاوړتیا بهیر داسي ډب کړ، چې بیا یې راخوځول پېړۍ- پېړۍ، ډېرې ککرۍ او د سرو او سپینو پریمانه همیانۍ غواړي.

نوره مو خوښه خپله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ